# اعلامیه مطبوعاتی

**کابل – افغانستان**

**تاریخ: ۲۴/۱۲/۱۴۰۰**

دیده بان حقوق بشر و رسانه ها سازمان بین‌المللی حمایت از رسانه‌ها و کمیته مصونیت خبرنگاران افغان، شورای امنیت سازمان ملل متحد را به حفاظت از خبرنگاران در افغانستان فرا می‌خواند.

دیده بان حقوق بشر و رسانه ها، از شورای امنیت سازمان ملل میخواهد تا در زمینه کاهش خشونت علیه خبرنگاران در افغانستان اقدامات جدی انجام دهند.

ما این نگرانی خویش را به شورای امنیت سازمان ملل متحد در پیوند با افزایش خشونت و تهدید در برابر خبرنگاران را عنوان نموده از آنها میخواهیم تا برای کاهش خشونت‌های علیه خبرنگاران افغان اقدامات جدی نمایند تا به آزادی بیان و کار رسانه ها در کشور صدمه وارد نه شود.

ماهمچنان تاکید میکنیم که اگر وضعیت خبرنگاران و رسانه ها به همین گونه دوام پیدا کند، شاید ما به مشکلات بسیار جدی روبرو شویم و ما شاهد بسته شدن بشترینه رسانه ها در سطح کشور خواهد باشیم.

آزادی و توسعهٔ رسانه ها، یکی از دست آوردهای بزرگ و مهم افغانستان در دو دههٔ پسین به شمار می رود. این دست آورد، متأسفانه با درنظرداشت مشکلات سیاسی-امنیتی کشور، شدیداً آسیب پذیر بوده و بیم آن می رود که با افزایش خشونت، ندادن اطلاعات به رسانه ها و وضعیت بد مالی رسانه ها به روحیهٔ بلندی که خبرنگاران افغان برای پیشبرد کار خبرنگاری دارند، تاثیر مستقیم خواهد گذاشت.

بر بنیاد قوانین افغانستان، تأمین امنیت خبرنگاران و رسانه ها از وظایف اساسی حکومت به شمار می رود که امارت اسلامی نیز قانون رسانه های همگانی را مری الاجرا قرار داده و طبق همین قانون باید رسانه ها کار کند، اما امارت اسلامی در ولایات و مرکز بالای خبرنگاران و رسانه ها فشارها وارد نموده است که به همین دلیل بشترینه رسانه ها در کشور یا بسته شده و یا هم در حال بسته شدن است.

بدین منظور، دیده بان حقوق بشر و رسانه ها از سازمان امنیت ملل متحد می خواهد که در دفاع از حقوق خبرنگاران و جامعه رسانه‌یی را در امر کاهش خشونت علیه خبرنگاران کمک کند. ما معتقد هستیم که خشونت از فرهنگ معافیت از مجازات بهره می برد. بر قراری عدالت برای خبرنگاران گامی است موثر برای حمایت از آزادی رسانه‌ها در افغانستان و کاهش خشونت علیه خبرنگاران که در زمینه باید امارت اسلامی افغانستان نیز از حق دسترسی به اطلاعات یک میکانیزم ایجاد نماید تا تمام رسانه ها به اطلاعات دسترسی داشته باشد.

**رابط: عزت الله اکبري رئیس بخش رسانه های مؤسسهٔ دیده بان حقوق بشر و رسانه ها**

**شماره های تماس: ۰۷۹۹۲۴۲۸۷۳ - ۰۷۷۵۳۳۰۴۴۴**

**ایمل: media@whmo.org**

---

# مطبوعاتي اعلامیه

**کابل، افغانستان**

**نېټه: ۲۴/۱۲/۱۴۰۰**

د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره د ملګرو ملتونو د رسنیو د خوندیتوب نړیواله ادارې او د ملګرو ملتونو له امنیت شورا څخه غواړي چې په افغانستان کې د خبریالانو د خوندیتوب په هکله جدي ګامونه پورته کړي.

د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره د ملګرو ملتونو له امنیت شورا غوښتنه کوي چې په افغانستان کې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کمولو لپاره جدي اقدام وکړي.

موږ د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي او ګواښونو د زیاتوالي په تړ د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته خپله اندېښنه څرګندوو او له هغوی غواړو چې د افغان خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کمولو لپاره جدي اقدام وکړي، څو د بیان ازادۍ او د رسنیو کار ته زیان ونه رسیږي.

موږ ټینګار کوو، چې که د خبریالانو او رسنیو وضعیت همداسې دوام وکړي، ښایي له جدي ستونزو سره مخ شو او په هېواد کې به د ډېرو رسنیو د تړل کېدو شاهدان واوسو.

د رسنیو ازادي او پراختیا په تېرو دوو لسیزو کې د افغانانو له پاره د سترو لاسته راوړنو څخه ده. له بده مرغه دا لاسته راوړنه په هېواد کې د سیاسي او امنیتي ستونزو او د حکومت د بدلون له امله ډېره زیانمنونکې ده او وېره شته چې د تاوتریخوالي د زیاتېدو، له امله رسنیو ته د معلوماتو د نه لاسرسي او د رسنیو د کمزوري مالي وضعیت له امله افغان خبریالان په لوړه کچه زیانمن کړېدی چې د دوی په ژورنالیستیک کار، پرمختګ او لوړ مورال به مستقیمه اغیزه ولري.

د افغانستان د قانون له مخې د خبریالانو او رسنیو د امنیت ساتل د دولت له اساسي دندو څخه دي، خبریالان او رسنۍ تر فشار لاندې راغلي، چې له همدې امله په هېواد کې زیاتره رسنۍ یا تړل شوې او یا هم د تړل کېدو په حال کې دي.

په همدې موخه د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره د ملګرو ملتونو له امنیت شورا څخه غواړي، چې د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کمولو په برخه کې د خبریالانو د حقونو د دفاع او د رسنیو سره مرسته وکړي. موږ باور لرو چې تاوتریخوالی د معافیت کلتور څخه ګټه پورته کوي او د بیان آزادی زیانمنه کوي. د خبریالانو لپاره د عدالت تامین په افغانستان کې د رسنیو د ازادۍ د ملاتړ او د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي په کمولو کې یو اغېزمن ګام دی.

**اړیکه: عزت الله اکبري د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره د رسنیو اړیکو رئیس**

**شماره های تماس: ۰۷۹۹۲۴۲۸۷۳ - ۰۷۷۵۳۳۰۴۴۴**

**ایمل: media@whmo.org**